هفته نامه
# معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق، مطابق ۱۳۸۱ هـ ش    شماره مسلسل(۲۸۰)    ماه محرم الحرام ۱٤٤٦ هـ ق    مطابق سرطان ۱٤۰۳ هـ ش

شپه پرته له سپوږمۍ
او ذهن پرته له علم تیاره دی.

## د پوهنې وزارت سرپرست له لوري پکتیکا ولایت کې د ۱۷ بابه ښوونځیو د بنسټ ډبرې کېښودل شوې

د پوهنې وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي حبیب الله آغا او ورسره مل پلاوي پکتیکا ولایت د مدارسو او ښوونځیو د ښوونیز وضعیت د څارنې په موخه یاد ولایت ته سفر کړی وو، د پوهنې مسئولینو، ګڼ شمېر علماوو او قومي مخورو په ګډون یې په یاد ولایت کې د ۱۷ بابه

۲مخ



# د پوهنې وزارت سرپرست پکتیا ولایت ته په رسمي سفر ولاړ



د پوهنې وزارت سرپرست الحاج مولوي حبیب الله آغا د هېواد د ولایتونو د ښوونیز او روزنیز وضعیت د ارزونې په موخه پکتیا ولایت ته ورسېد.

په پیل کې د پوهنې وزارت سرپرست د یاد ولایت د پوهنې ریاست له مرکزي دفتر څخه لیدنه وکړه او د دغه ریاست له مشرتابه او کارکوونکو سره یې وکتل.

د یاد ولایت پوهنې رئیس د پوهنې وزارت د سرپرست له ورتګ څخه د هرکلي ترڅنګ، د دغه ریاست د کارونو او فعالیتونو په تړاو معلومات وړاندې کړل. ورپسې د پوهنې وزارت سرپرست په یاد ولایت کې د پوهنې په تړاو د ښو اقداماتو له امله د مسئولینو او کارکوونکو کوښښونه وستایل او هغوی ته یې په ورسپارل شوو چارو کې د لا زیاتو هڅو سپارښتنه وکړه. په ورته مهال د پوهنې وزارت پلاوی، په داسې حال کې چې د پوهنې ریاست مسئولینو یې ملتیا کوله، د یاد ولایت د ببرک خان ځدراڼ عالي لیسې او مرکزي دارالایتام په ګډون له یو شمېر ښوونځیو څخه لیدنه وکړه او هغوی ته یې د پوهنیزو آسانتیاوو په اړه چې د هېواد بچیانو د علمي وړتیاوو لوړولو په موخه د پوهنې وزارت لخوا چمتو شوې دي، معلومات ورکړل. ورپسې د پوهنې وزارت سرپرست د پکتیا ولایت مقام ته تشریف یوړ او د یاد ولایت له والي

۲مخ

## د پوهنې وزارت سرپرست د هغه زده‌کوونکي ستاینه وکړه چې د خپلو بوټونو د اخیستو پیسې یې د ښوونځي د ترمیم لپاره مرسته کړې وه

د پوهنې وزارت سرپرست الحاج مولوي حبیب الله آغا د روح الله په نوم د میدان وردک ولایت د سید آباد ولسوالۍ اړوند د ( کفتان تاج محمد خان) ښوونځي د دریم ټولګي بې وزله زده کوونکي سره په خپل دفتر کې وکتل چې څو ورځې وړاندې یې پلار هغه ته د بوټونو د اخیستو لپاره پیسې ورکړې وې خو یاد زده کوونکي په هغه پیسو بوټ نه وو اخیستي او هغه یې د خپل ښوونځي د ترمیم لپاره مرسته کړې وه، د یاد ماشوم دا کړنه د معارف د مسئولینو په ځانګړې توګه د پوهنې وزارت د سرپرست له هرکلي سره مخ شوه او هغه یې د لا زیاتې هڅونې په موخه خپل کاري دفتر ته راوغوښت.

د پوهنې وزارت سرپرست وزیر الحاج مولوي حبیب الله آغا پدې لیدنه کې د یاد ماشوم د احساس او د علم او پوهې سره مینه وستایله او هغه ته یې د الله جل جلاله له درباره د روښانه راتلونکي هیله وکړه.

نوموړي زیاته کړه ددې ماشوم دا احساس ټولو هېوادوالو ته د یوه روښانه راتلونکي، سوکاله او په خپل ځان بسیا هېواد زیری ورکوي. دده په خبره د علم او پوهې ودې او پوهنیز نظام ځواکمنتیا د هر هېوادوال مسئولیت دی او هر افغان ته ښایي چې تر خپله وسه د پوهنیز نظام ملاتړ وکړي تر څو ټولنې ته د علم او پوهې په ګانه سمبال نسل وړاندې کړو او په دې ترتیب

۲مخ



## د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معین د کابل مرکزي دارالحفاظ له استاذانو سره وکتل

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معین الحاج مولوي کرامت الله آخندزاده د کابل مرکزي دارالحفاظ له استاذانو سره په کتنه کې، د زده کوونکو د تدریس د مؤثرو لارو چارو او د هغوی د ستونزو په ګډون په یو شمېر نورو مهمو موضوعاتو تفصیلي خبرې وکړې. د اسلامي زده کړو معین د دارالحفاظ د استاذانو د وړاندیزونو او نظریاتو د اورېدو پرمهال، هغوی ته د همکارۍ او د ستونزو د حل ډاډ ورکړ. له بلې خوا یو تن استاذ د نورو په استازیتوب د اسلامي زده کړو د پیاوړتیا په برخه کې د پوهنې وزارت د مشرتابه هلې ځلې وستایلې.

## سرلیکنه

### تاسو د خپلو ماشومانو الګو یاست

تاسو د خپلو ماشومانو الګو یاست کوښښ وکړئ تر څو خپلو ماشومانو ته ښه الګو و اوسئ او ټولنې ته ګټور اولاد وړاندې کړئ.

درنو کورنیو! ستاسو ماشومان ستاسو له کړو وړو زده کړه کوي نه ستاسو له نصیحت څخه، نو کوښښ وکړئ چې په خپلو کړو وړو کې داسې کړنې تر سره کړئ چې ستاسو ماشومانو باندې مثبتې اغېزې ولري، نه دا چې خدای مکړه داسې کړه وړه تر سره کړئ چې ماشومان مو هم ستاسو په پله پل کېږدي او په راتلونکې کې یو بې پروا او بې احساسه انسان ترې جوړ شي. ډېر کله به مو لېدلي وي چې یو شمېر پلرونه خپلو اولادونو ته د خپل شخصیت د ښه ښودلو په موخه د خپل تېر ژوند یا اوس ژوند داسې کیسې بیانوي تر څو ځان خپلو اولادونو ته زړور او ډېر هوښیار وښیې خو لدې خبر ندی چې دده همدا خبرې په ماشوم نېغ په نېغه اثر کوي او ماشوم هم هڅه کوي چې کټ مټ د خپل پلار په شان شي. د بېلګې په توګه زوی ته وایې ما یو وخت فلانی داسې ووهلو او یا مې د فلانې سرې د دغه کړنې

۲مخ

## دغه جملې مو پخپلو اولادو باندې زده کړئ

دریم مخ

## عاملی که باعث جلوگیری از موفقیت شما می‌شود

دریم مخ

## د پوهنې وزارت د ساینس مرکز رئیس د کابل ښار له یو شمېر ښوونځیو څخه لیدنه وکړه

د پوهنې وزارت د ساینس مرکز رئیس استاد حبیب الله خالد، د یاد ریاست د ساینسي مضامینو له یو شمېر استاذانو سره په ګډه، د آریانا (افغان- ترک )ښوونځیو اړوند او د کابل ښار د استقلال لېسې د درسي لابراتوارونو، وسایلو او اړینو توکو څخه لیدنه وکړه. نوموړي په دغه لیدنو کې د یادو لېسو له مسئولینو او زده کوونکو سره د مخامخ ناستو تر څنګ، د ښوونکو د تدریسي مېتودونو، د درسي لابراتوارونو وضعیت، د لابراتوارونو د موادو او وسایلو د کمښت او نورو اړوندو ستونزو په اړه خبرې وکړې او د هغوی د ستونزو او نیمګړتیاوو د حل په موخه یې مسئولینو ته لازمي سپارښتنې وکړې. په ورته مهال د یادو لېسو مسئولینو د پوهنې وزارت د ساینس مرکز رئیس له ورتګ څخه هرکلی وکړ او نوموړي ته یې ډاډ ورکړ، چې د هېواد بچیانو د ښوونې او روزنې په برخه کې به تر خپله وسه پورې

۲مخ

## بازسازی یک باب مکتب در ولایت غزنی

کار ساختمانی مکتب سلطان مسعود در ولسوالی خواجه عمری ولایت غزنی که نیمه کاره باقی مانده بود، به هزینه ۷ میلیون افغانی آغاز شد.

الحاج مولوی میرنصیر احمد حسینی رئیس معارف ولایت غزنی حین افتتاح کار این پروژه گفت: ساخت این مکتب حدود ۱۵ سال پیش شروع شده بود که نسبت بعضی مشکلات صرف ٪۳۰ کار آن پیش رفته بود و کار ساخت آن نیمه تمام باقی مانده بود که خوشبختانه به همکاری و توجه رهبری وزارت معارف کار اعمار آن مجددا آغاز گردید. موصوف تصریح کرد: قرار است مطابق نقشه، برای مکتب یاد شده ۱۶ صنف درسی، یک باب اتاق اداری با تمام سهولت ها و ملحقات آن اعمار شود. فعلا در این مکتب ۷۰۰ تن شاگرد مصروف آموزش می باشند که با اعمار تعمیر مذکور فضای مصئون تعلیمی برای شان مهیا می گردد. قابل یاد آوریست که سال گذشته نیز از بودیجه وزارت معارف و کمک های نهاد های همکار جمعا تعمیر ۵۰ باب مکتب در این ولایت ترمیم و باز سازی شده است ودر سال روان هم در نظر است تا تعمیرات ۵۰ باب مکتب دیگر در این ولایت ترمیم شوند.

## پکتیکا کې د مدارسو او ښوونځیو د زده کوونکو ترمنځ د«امارت پېژندنې» تر نامه لاندې سیالۍ تر سره شوې

پکتیکا ولایت کې د مدارسو او ښوونځیو د سلګونو زده کوونکو ترمنځ د «امارت پېژندنې» تر نامه لاندې سیالۍ ترسره شوې.

د پکتیکا ولایت بکخېل ولسوالۍ د مدارسو او ښوونځیو د ۲۵۰ تنو زده کوونکو ترمنځ د «امارت پېژندنې» سیالیو کې د پوهنې پر مسئولینو سربېره، د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست یو شمېر چارواکو او د یادې ولسوالۍ یو شمېر سیمه ییزو مسئولینو، ښوونکو او استاذانو هم ګډون درلود او د یادو سیالیو له بهیر څخه یې څارنه وکړه.

د چارواکو په وینا د دا ډول سیالیو له پیلولو یې اساسي موخه د افغانستان د شل کلن سپېڅلي او برحق جهاد څخه د ځوانانو خبرول دي.

## گشایش یک باب دارالعلوم در ولایت نیمروز

ساختمان دارالعلوم عارفیه در قریه تپه ناوی از مربوطات ولسوالی خاشرود ولایت نیمروز افتتاح و مورد استفاده شاگردان قرار گرفت.

به گفته مسئولین معارف این ولسوالی تهداب دارالعلوم مذکور در سال۱۴۴۴ هجری قمری گذاشته شده بود که بعد از اتمام کارهای مقدماتی کار ساختمان آن آغاز و اخیراً افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

دارالعلوم یاد شده به کمک مالی اهالی این ولسوالی و تجار ملی اعمار شده که مبلغ یک میلیون و ۱۰۰ هزار افغانی هزینه برداشته است. به گفته مسئولین در ولایت نیمروز با ساخت و افتتاح دارالعلوم یاد شده برای صدها تن طالب العلمان این ولایت زمینه آموزش فراهم میگردد.

باشندگان ولسوالی یاد شده از اعمار این دارالعلوم در محله شان، ضمن ابراز خوشی از رهبری وزارت معارف، تلاش های مسئولین در ریاست معارف ولایت نیمروز را ستایش نمودند.

## د پوهنې وزارت سرپرست...

مولوي مهرالله حماد او د علماوو شورا له رئيس شيخ مولوي صالح محمد فقير سره وکتل. په دې کتنه کې د ياد ولايت د پوهنيز وضعيت د پياوړتيا او لاښه والي په تړاو هراړخيز بحثونه ترسره شول. دغه راز د ولايت مقام رهبرۍ او د علماوو شورا، د پوهنې وزارت د پلانونو د ملاتړ سربېره، د پوهنې وزارت سرپرست ته د دغه وزارت د پلانونو د عملي کولو ډاډ ورکړ. همدارنګه د ياد سفر د آجنډا له مخې، نوموړي د ياد ولايت له مشرانو او شيعه علماوو سره هم وکتل. يادو علماوو هم د پوهنې وزارت کړنې وستايلې او د هېواد له تعليمي پلانونو يې خپل ملاتړ أعلان کړ.

## د پوهنې وزارت سرپرست...

ښوونځيو د بنسټ ډېرې کېښودلې.

د پوهنې وزارت سرپرست په هغه غونډه کې چې له دې أمله جوړه شوې وه وويل: تر اوسه د ديني او عصري علومو په تړاو د خدمتونو د پراختيا او د پوهنيز کيفيت لوړولو په برخه کې ډېر کارونه شوي، خو دغه اقدامات زموږ لپاره کافي نه دي بلکې په دې لاره کې به خپلې هڅې لاپسې جاري وساتو.

نوموړي د خپلو خبرو په ترځ کې د استاذانو د کمو معاشونو په اړه څرګنده کړه: له دې أمله چې د استاذانو او ښوونکو معاشونه کافي نه دي، په دې اړه يې د افغانستان.ا.ا. له مشرتابه سره ياده موضوع شريکه کړې ده.

په ورته مهال استاذانو او علماوو په هېواد کې د ښوونيز بهير د پياوړتيا او د ښوونکو د ژوندانه د وضعيت لاښه والي په برخه کې د پوهنې وزارت د سرپرست له هلوځلو او نېک احساس څخه مننه وکړه او د ښوونې او روزنې د ودې په موخه يې له پوهنې وزارت سره د هر ډول مرستې او همکارۍ ژمنه وکړه.

## تاسو د خپلو ماشومانو ...

په غبرګون کې د هغه ونه پرې کړه ته هم لکه د خپل پلار په شان چاته کمه ونه وايې. . . او داسې نور. دا ډول کړنې ماشومان دېته هڅوي چې دی هم د خپلو همزولو سره همداسې چلند ولري او د همدې چلند دوام بيا دغه ماشوم په ځوانۍ کې يو بې بندو باره او په عامه اصطلاح بدماش په ټولنه کې لويېږي چې هم ځان او هم نورو ته سرخوږی وي.

مور باید خپل اولاد په اسلامي روحيه لوی کړو او هغه څه تر سره کړو چې زموږ د اولادونو لپاره الګو وي. که غواړو چې أولاد مو په ښه اسلامي روحيه او نېکو اخلاقو وروزو بايد خپل ځان داسې جوړ کړو چې ماشوم مو د موږ په پل روان وي. لکه د لمانځه ادا کولو په وخت کې بايد خپل ماشوم تل له ځان سره جومات ته بوزو تر څو د الله جل جلاله له عبادت سره يې مينه زياته شي او تل په لمانځه او نېکو اعمالو پابند و اوسي، همدارنګه کله چې غواړو له يو بې وزله سره مرسته وکړو ښه خبر دا ده چې پيسې مو خپل ماشوم ته ورکړئ او ورته ووایاست چې زويه يا لورې دغه پيسې هغه بې وزله ته ورکړه، کله چې په لاړ روان وو بايد په نورو ناستو کسانو سلام واچوو او خپل زوی ته هم په سلام اچولو ټينګار وکړو، له خپل پلار او مور سره ښه چلند وکړو تر څو زموږ ماشومان هم له موږ سره په مينه چال چلند له موږ زده کړه وکړي او داسې نور هغه نېک اعمال تر سره کړو چې په ماشومانو نېغ په نېغه اغېز وکړي. پورته څو مواردو ته مو د بېلګې په توګه اشاره وکړه چې په ظاهر کې ډېرې ساده کړنې دي مګر پرته له شکه چې دا د ماشومانو په سلوک او رفتار باندې ډېره ژوره اغېزه لري. دا چې ماشومان مو هر څه کټ مټ له موږ زده کوي دا هم لازمه ده چې هر هغه ښه کار چې تر سره کوو بايد خپلو ماشومانو ته يې په اړه وضاحت ورکړو چې ولې مو دا کار تر سره کړو او ددې کار ګټه څه ده، تر څو مو ماشومان د هغه نېک کار په معنوي ارزښت هم پوه شي.

يوه بله موضوع چې د ماشومانو راتلونکې تباه کوي او قدرمنې کورنيو بايد ورته جدي پاملرنه وکړي هغه دا ده چې که پلرونه په نشه يي توکو روږدي وي لکه نسوار، سګرټ او يا هم نور نشه يي توکي دا تېروتنه هېڅکله ونه کړي چې په خپلو ماشومانو باندې له دوکان دغه توکي راوړي او يا د هغوی تر مخ نشه يي توکي استعمال کړي. ډېر هغه کسان چې په ځوانۍ کې په نشه يي توکو روږدي شوي هغوی وايي چې کله به مو پلار دوکان ته په يادو توکو پسې لېږلو او يا به يې زموږ تر مخ استعمالول نو موږ ته هم شوق پيدا کېدو چې ددې توکو خوند وڅکو کله مو چې دغه توکو ته لاسرسی پيدا شو نو کله کله به مو استعمالول چې د وخت په تېرېدو سره په دې توکو روږدي شو بيا به مو هڅه کوله له هغو همځولو سره اړيکه وساتو چې په نشه يي توکو روږدي وو هغوی موږ ته د ډېرو خطرناکو نشه يي توکو د استعمال وړانديز په ډېر ماهرانه ډول کولو او موږ به هم ورسره منله چې په پايله کې مو خپل ژوند تباه کړو.

قدرمنو کورنيو! لکه څنګه مو چې يادونه وکړه څومره چې زموږ نېک اعمال او کردار په ماشومانو ژوره اغېزه کوي همداراز مو منفي کړنې هم په ماشومانو منفي اغېزې کوي که دې په ظاهر کې کوچنيو تېروتنو ته چې په اصل کې د ماشوم لپاره خطرناکې پايلې لري پاملرنه ونه کړو نو خدای مه کړه په خپل لاس به مو د ماشومانو راتلونکې تباه کړي وی او موږ به په راتلونکې کې د خپلو ماشومانو تباهي په خپلو سترګو ګورو خو هېڅ مرسته به نشو ورسره کولای. نو راځئ چې خپل ماشومان په اسلامي روحيه او ښو اخلاقو وروزو هغوی ته د تعليم ښه چاپېريال را منځ ته کړو او تل يې مطالعې ته وهڅوو که مو نن له دې کمکيو نيالګيو سره لږ خو په غور او هوښيارۍ زحمت وکېښ سبا ورځ به هم دوی هم موږ او هم ټولنې ته د يو مثبت شخص په توګه څرګند شي چې ټول به پرې وياړي او که خدای مه کړه ددوی په روزلو کې مو غفلت وکړ نو سبا ورځ داسې يو شخص ترې جوړېږي چې هم به تاسو پرې سرټيټې اوسئ او هم به د ټولنې لپاره لکه د سرطان دانه د علاج وړ نه وي.

## د پوهنې وزارت سرپرست ...

سره خپل هېواد د ترقۍ او پرمختګ لوړو څوکو ته ورسوو.

ددې کتنې په ترځ کې روح الله هم لنډې خبرې وکړې او د پوهنې وزارت له سرپرست څخه يې دده د مادي او معنوي ملاتړ په پار مننه او قدرداني وکړ.

همداراز د ميدان وردک ولايت د سيد آباد ولسوالۍ د پوهنې آمر الحاج همايون خان نېکمل د پوهنې وزارت له سرپرست څخه د ياد ماشوم او ددې ولسوالۍ د آمريت د کړنو د ستايلو له امله مننه وکړه او د پوهنې سرپرست ته يې ډاډ ورکړ چې د ميدان وردک ولايت ولسونه تل د معارف او پوهنيز نظام تر څنګ ولاړ دي او د پوهنيز نظام د لا ځواکمنتيا لپاره د پوهنې وزارت له پروګرامونو څخه مادي او معنوي ملاتړ کوي چې ښه بېلګه يې د روح الله جان وروستی مرسته وه.

د ناستې په پای کې هغه ستاينليکونه او نغدي ډالۍ چې د پوهنې وزارت د سرپرست لخوا روح الله جان او د سيد آباد ولسوالۍ د پوهنې آمر ته په پام کې نيول شوې وې د پوهنې د سرپرست وزير لخوا يادو کسانو ته ورکړل شوې.

## د پوهنې وزارت د ساينس ...

هلې ځلې وکړي او د معياري تدريس لپاره به له اساسي تدريسي وسايلو څخه په ښه توګه ګټه پورته کړي.

## افتتاح یک باب مکتب ابتداییه ...

در مربوطات ولسوالی قرمقول ولایت فاریاب پس از تکمیل کار ساخت آن از سوی الحاج مولوی طاهر جواد رئیس معارف آن ولایت گشایش یافت. به گفته یی سخنگوی وزارت معارف ابتدائیه یاد شده دارای ۶ صنف درسی با تمام ضروریات آن میباشد که در یک وقت ظرفیت پذیرش ۳۰۰ شاگرد را دارا میباشد. به اساس معلومات نامبرده ساخت این ابتدائیه یک میلیون ۴۰۹ افغانی هزینه برداشته که از سوی یک نهاد کمک کننده به معارف تمویل گردیده است.

آقای حمزه همچنان از گذاشتن سنگ تهداب دو باب مکتب به هزینه بیشتر از دو میلیون افغانی در آن ولایت خبر داد. به گفته وی سنگ تهداب مکتب ( اناثیه تورت عطا) که در مساحت یک جریب زمین ساخته میشود، دارای شش صنفی درسی با تمامی ضروریات آن به هزینه یک میلیون و ۴۰۲ هزار افغانی ساخته خواهد شد. همچنان سنگ تهداب مکتب ( تاتار خانه نمبر۲) در شهر میمنه نیز از سوی رئیس معارف آن ولایت گذاشته شد. که مکتب یاد شده دارای شش صنف درسی میباشد و هزینه ساخت آن حدود یک میلیون ۲۹ هزار افغانی تخمین شده که به زودی کار ساخت آن تکمیل و برای صدها تن از فرزندان باشنده گان محل زمینه آموزش مصئون فراهم خواهد گردید.

قابل یاد آوریست که شماری زیادی از مکاتب در این ولایت به همکاری یک نهاد مدد رسان با وسایل درسی و تخنیکی مانند کمپیوتر، پرنتر، میز و چوکی و سایر نیازمندی های شاگردان مجهز شده اند.

در همین حال شماری از باشنده گان محل از توجه وزارت معارف برای رشد متوازن تعلیم و تربیه در تمامی نقاط کشور اظهار خورسندی نموده و حمایت شانرا از برنامه های توسعوی تعلیم و تربیه وزارت معارف اعلام داشتند.

## دیدار رئیس اداره ملی امتحانات...

سپس رئیس اداره امتحانات در پیوند به وضعیت تعلیمی آن ولایت صحبت نموده و در این زمینه نظریات مسئولین معارف و علمای آن ولایت را شنید. آنان در این ملاقات ضمن توجه به فراگیری تعلیمات دینی، در مورد ضرورت آموختن علوم عصری نیز تأکید نمودند. در ادامه شیخ عبدالقادر ابوالاسرار به نمایندگی از علمای کرام ولایت یاد شده در رابطه به موضوع صحبت نموده، حمایت شان را از برنامه های معارف اعلام داشتند.

## په ننګرهار ولايت کې يو باب ...

چې د يادې لېسې په ودانۍ کې به ۶ درسي ټولګي او يوه اداري خونه سره له ټولو اړينو ملحقاتو شتون ولري چې د جوړېدو د چارو په بشپړېدو سره به ددې سيمې سلګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړو خوندي چاپېريال را منځ ته شي.

د ننګرهار ولايت مقام د بشري سرچينو رئيس مولوي محمد طاهر جلالي چې په همدې موخه جوړې شوې غونډه کې خبرې کولې وويل: د پوهنې په برخه کې هر مثبت ګام د هېواد مختګ ګڼل کېږي هغه د خپلو خبرو په دوام ژمنه وکړه چې د پوهنې وزارت د پلانونو په عملي کولو کې هر ډول مرستې ته چمتو دي.

په همدې حال کې د ننګرهار د پوهنې رئيس مفتي حبيب حضرت حقاني د ياد رياست د فعاليتونو په اړه د غونډې ګډونوالو ته معلومات وړاندې کړل او د خبرو په دوام يې وويل: تېر کال په ياد ولايت کې ۲۸ بابه نوي ښوونځي جوړ شوي او د پوهنې وزارت په هېواد کې متوازنو زده کړو او د پوهنيز نظام ځواکمنتيا ته ژمن دی.

همدا راز د مرستندويه بنسټ مسئول پدې غونډه کې وويل: په پام کې ده چې په ننګرهار ولايت کې د ۱۰ بابه ښوونځيو له ډلې ۴ ښوونځي د ياد ولايت په کوز کنړ ولسوالۍ کې جوړ شي چې په دې سره به سلګونو زده کوونکو ته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېريال را منځ ته شي.

د يادونې وړ ده چې د پوهنې وزارت له لوري د ولس او يو شمېر همکارو بنسټونو په مرسته په تېرو دوه کلونو کې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې په سلګونو مدرسې او ښوونځي جوړ شوي چې په دې سره زرګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې خوندي چاپېريال را منځ ته شوی او د مدرسو او ښوونځيو د جوړېدو او تأسيس دا لړۍ لا هم روانه ده تر څو په هغه سيمو کې چې زده کوونکي زده کړو ته لاسرسی نلري د زده کړو زمينه برابره شي.

## لنډ خبرونه

### فراه

د افغانستان د خلکو له سپېڅلي جهاد سره د ځوانانو د آشنا کېدو په موخه، د فراه ولايت د ښوونځيو له ۲۵۰ تنو زده کوونکو څخه د امارت پېژندنې تر نامه لاندې رقابتي آزموينه واخيستل شوه

### کابل :

پوهنې وزارت له لوري د کابل ولايت ځلورمې ښوونيزې حوزې اړوند د سلطان محمود غزنوي په منځنۍ ښوونځي کې د ځايي خلکو په مالي ملاتړ د ۶۰۰ زره افغانيو په لګښت يو محراب جومات د يو لړ مراسمو په ترځ کې د لمونځ کوونکو پر مخ پرانيستل شو.

### فارياب او جوزجان

د پوهنې وزارت د وړانديز او رياست الوزرا د عالي مقام د منظورۍ په اساس د جوزجان ولايت د پوهنې رئيس مولوي محمد طاهر جواد د فارياب ولايت د پوهنې د رئيس په توګه او دفارياب د پوهنې رئيس مولوي حفيظ الله معتصم باالله د جوزجان ولايت د پوهنې د رئيس په توګه و تاکل شول.

### پکتيکا

د پوهنې وزارت له لوري د پکتيکا ولايت په ديني مدارسو کې د ۱۰۳ خالي بستونو د ډکولو لپاره د نويو مدرسينو د ګمارنې په موخه، له ۱۲۱ تنو نوماندانو څخه رقابتي آزموينه واخيستل شوه.

### سرپل

د پوهنې وزارت له لوري د سرپل ولايت په سوزمه قلعه ولسوالۍ کې د معارف دوسته خلکو په مالي ملاتړ د ۱۵ ميليونه افغانيو په ارزښت د معارج العلوم په نوم د يوې ديني مدرسې د بنسټ ډبره د سلګونو ځايي اوسېدونکو، علماوو او سپين ږيرو په ګډون د يوې پرتمينې غونډې په ترځ کې کېښودل شوه، د يو بل خبر له مخې د پوهنې په برخه کې د عامو خلکو د ملاتړ او مرستو په دوام د همدې ولسوالۍ علم پروره خلکو د يو ميليون او ۷ سوه زره افغانيو په ارزښت، ۲ زره او ۳۰۰ متره مربع شخصي ځمکه د يوې ديني مدرسې د جوړولو په موخه د پوهنې وزارت ته د يو لړ مراسمو په ترځ کې وقف کړه.

### ننګرهار

د پوهنې وزارت له لوري د ننګرهار ولايت په روداتو او کوټ ولسواليو کې د پوهنې مينه والو له لوري د ۱۲۰ زره افغانيو په لګښت د يوه ښوونځي او يوه باب دارالعلوم لپاره د سولري برېښنا او د څښاک اوبو سيستم جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

### بادغيس

۳۲۰۰ کارتن قرطاسيه و بسته های مواد درسی به همکاری یکی از نهاد های کمک کننده به معارف برای ۴۳۱۸۰ تن شاگرد در مکاتب مرکز و ولسوالی های آبکمری' قادس' مقر' مرغاب' جوند' غورماچ' تگاب عالم' سنگ آتش و دره بوم ولایت باغیس توزیع گردید.

### بلخ

د بلخ ولايت اړوند د محمد يوسف خيرخواه ښوونځي په انګړ کې د ځايي خلکو په مالي مرسته د يو ميليون افغانيو په لګښت د يو محراب جومات چارې بشپړې او د لمونځ کوونکو په مخ پرانيستل شو.

### لغمان

د پوهنې وزارت د کړنلارې له مخې په لغمان ولايت کې د ۵۰۰ مجاهدينو څخه د سوبې د تثبيت آزموينه واخيستل شوه.

## ۵ عاملی که باعث جلوگیری از موفقیت شما می‌شود

**ترس**
همه ما می ترسیم؛ اما افراد مؤفق تفاوت شان در این است که به جای فکر کردن به ترس ها، روی هدف شان تمرکز می کنند.

**توجه به حرف دیگران**
اگر قرار باشد فقط نگاه ما به نظرات دیگران باشد در همان جایی که هستیم میمانیم. افراد مؤفق مشورت میکنند اما در تصمیم گیری به خودشان متکی هستند.

**اقدام نکردن**
گاهی اوقات ما بیشتر در فکر قدم برمیداریم. باید با موقعیت ها مواجه شد و به جای غرق شدن در فکرها، قدم برداشت.

**نتیجه گرایی**
هدف داشته باشیم اما وقتی قدم برداشتیم نتیجه را رها کنیم. توجه زیادی به نتیجه ذهن ما را ترسو میکند.

**عدم خودباوری**
باور نداشتن خود یعنی سرد کردن انگیزه قدم برداشتن. این مهم نیست که عالی باشیم، این مهم است که قدم برداریم.

## دا هر څه جرئت ته اړتیا لري!



دا جرئت ته اړتیا لري چې خپله د آرامښت ساحه پرېږدې.
دا جرئت ته اړتیا لري چې خپل خوبونه تعقیب کړئ.
دا جرئت ته اړتیا لري چې د یادولو وړ ژوند ، ژوند وکړئ.
مرګ ډېر آسانه دی، مګر ژوند کول جرئت غواړي.
دا جرئت ته اړتیا لري چې وده وکړئ او هغه څه جوړ شئ چې ستاسې په برخلیک کې دي.
دا جرئت ته اړتیا لري چې خپلو امکاناتو نه ګټه واخلئ.
دا جرئت ته اړتیا لري هغه څه چې تاسې یې غواړئ تعقیب کړئ.
په نیمه لارکې درېدل یا بس کول خورا آسانه دي، دا جرئت ته اړتیا لري تر څو چې تاسې هدف ته ونه رسیږئ خپلو هڅو دوام ورکړئ.
خپلو ناکامیو ته کتل او بیا هم هڅه کول جرئت ته اړتیا لري، له سختو مخالفتونو سره مقابله کول او بیا هم مبارزې ته دوام ورکول جرئت غواړي.
غورځېدل ډېر آسانه دي، ولاړېدل جرئت غواړي.
که هڅه مو وکړه او له ماتې سره مخ شوی، که مو پلان جوړ کړ او ومو لیدل چې پلانونه مو ناکامه دي، که تاسې خپله ټوله خواري وکړه مګر بیا مو هم یو څه له لاسه ورکړل. نو په یاد ولرئ چې هغه لویو خلکو چې زموږ څخه مخکې یې ژوند کاوه ټول د زړورتیا یا جرئت محصول وو.
جرئت په دې مانا نه دی چې تاسې ویره مه کوئ، دا په دې مانا دی چې تاسې اجازه مه ورکوئ چې ستاسې ویره ستاسې مخه ونیسي.
تاسې د نوو افقونو لیدلو لپاره لامبو نشئ کولی تر هغه چې تاسې د ساحل لیدل له لاسه ورکولو جرئت ونه لرئ. تاسې نشئ کولی هغه څه جوړ شئ چې ستاسې په برخلیک کې دي تر هغه چې تاسې د هغه ځای د پرېښودو جرئت ونه لرئ چې وار دمخه پکې یاست. ټول هغه څه چې تاسې یې په ژوند کې ترلاسه کول غواړئ د ویرې په هغه بلې خوا کې دي،
تاسې جرئت ته اړتیا لرئ چې تعقیب یې کړئ او ترلاسه یې کړئ. میدان ته ووځئ، ژوند پیل کړئ. د خپلو ویرو سره مخ شئ، خپلې جګړې سره وجنګیږئ، دا د فتح کولو وخت دی، دا هغه څه دي چې تاسې ورته جوړ شوي یاست، له همدې امله تاسې دلته یاست.
په داسې نړۍ کې چې له ویرې او شکونو څخه ډکه وي، دا جرئت غواړي چې په میدان ودریږئ.


## چند نکته تربیتی بخاطر تربیت بهترفرزندان

- هدیه را اول به دختر بدهید.
با طفل خود بازی کودکانه بکنید.
-با سلام کردن به فرزندتان به او شخصیت دهید.
- به فرزندان خود شخصیت بدهید.
- فرزندان خود را ببوسید. پس همانا برای هر بوسیدن درجه ای در بهشت است .
- کودک را در کارهای کودکانه خود تمسخر نکنید. کارهایش را احمقانه نخوانید..
- به وعده خود وفا کنید.
- در کودکان عشق و علاقه به نماز را ایجاد کنید.
- کودک را تحقیر نکنید.
برای کودکان خود دعا کنید. به خصوص پدران.
اگر کودک در خانه مورد احترام باشد، کمتر از اوامر پدر و مادر سرپیچی می کند.
احترام به کودک و حسن معاشرت پدر و مادر با وی یکی از اساسی ترین عوامل ایجاد شخصیت در کودک است
- مربی خوب کسی است که خواسته های کودک را از راه های صحیح و با روش درست تعدیل کند.
- ایمان را در کودکتان تقویت کنید.
- فرزند را راستگو تربیت کنید.
در خانه طوری رفتار کنید که اطفال به راستگویی عادت کنند.
- کودک را نترسانید زیرا ترس شخصیت کودک را از بین می برد و دچار اختلال روانی می گردد.
- نوازش یکی از غذاهای روانی کودک است باید به اندازه کافی از آن تغذیه شود.
- زشتی گناه و تنفر مردم از گناهکار را به کودک بفهمانید.
بستر بچه ها قبل از ٦ سالگی از هم جدا باشد.
توجه داشته باشید فرزندان آنگونه که ما می خواهیم نمی شوند بلکه آن طوری که ما هستیم می شوند
- بین نظم در خانه و بیرون فرق قائل شوید و اجازه دهید در خانه آزادانه بازی کنند.
- رفتارهای غیر منتظره کودکان را تا حدودی تحمل کنید.
- در تذکر دیگران را به رخ او نکشید و کسی را با او مقایسه نکنید.
- از طریق داستان سرایی بسیاری از مفاهیم خوب را به کودک القا کنید. داستان خوب و زیبا برایش بخوانید و از رسانه و انیمیشن دور نگهشان دارید.
- شیطنت کودک در خردسالی نشان دهنده زیادی عقل او در بزرگسالی است آن را سرکوب نکنید.
- کودکان را از ۷ سالگی دعوت به نماز کنید که نماز آرامش و روح و قلب را در کودکان ابدی میکند.
- به فرزند خود قرآن بیاموزید که نگاه به قرآن و خواندن آن فهم و ذهن کودک را روز افزون می کند.
- از متهم کردن اطفال به دروغ گویی خودداری کنید.
- حس کنجکاوی کودک را با حوصله مندی تحمل کنید.
- در برابر فرزندان تان هیچ گاه مشاجره نکنید.
- کودکان از مرگ در هراسند بخصوص مرگ والدین. مدام نگویید "خدا مرگم بده" و از مرگ خود کودکان را نترسانید.
- استعدادهای فرزندان را کشف کنید و آن ها را شکوفا کنید.
تنها نقطه امید و مایه شادی کودک، مهر پدر و مادر است روان او را مضطرب نسازید.
-مناسب تکامل کودک به او آزادی دهید و او را به اختیار خودش بگذارید.
- تربیت فرزند و آموزش واجبات از وظایف والدین است.

## دغه جملې مو پخپلو اولادو باندې زده کړئ

سوال: دچا بنده یي؟
جواب: د الله جل جلاله بنده یم.
سوال: دچا اُمتي یی ؟
جواب: د محمد رسول الله (صل الله علیه وسلم ) امتي یم.
سوال: دچا په ملت یي ؟
جواب: په ملت د ابراهیم (علیه سلام ) یم.
سوال: دچا په مذهب یی ؟
جواب: د امام ابوحنیفه (رحمت الله علیه ) په مذهب یم.
سوال: حضرت محمد (صل الله علیه وسلم ) څو یاران درلودل ؟
جواب: حضرت محمد (صل الله علیه وسلم ) څلور یاران درلودل.
١- حضرت ابوبکر صدیق (رض الله عنه)
٢- حضرت عمر فاروق (رض الله عنه)
٣- حضرت عثمان غنی (رض الله عنه)
٤- حضرت علی (رض الله عنه)
سوال: څو مذهبونه دي؟
جواب: څلور مذهبونه دي.
١- د امام ابوحنیفه (رحمت الله علیه) مذهب.
٢- د امام شافی (رحمت الله علیه ) مذهب.
٣- د امام مالک (رحمت الله علیه) مذهب.
٤- د امام احمد بن حنبل (رحمت الله علیه) مذهب.
سوال: ایمان څه شي دي؟
جواب: ایمان په لغت کې تصدیق او باور کولو ته ویل کیږي. او په اصطلاح کې دالله (جل جلاله ) او دهغه د حبیب صلی الله وسلم ټول احکام په ژبه بیانول او په زړه سره تصدیق کول او عملي کول دي.
سوال: ایمان دڅه شي په واسطهٔ سره قوي کیږي؟
جواب: ایمان دنیکو اعمالو په ترسره کولو قوي کیږي.
سوال: اسلام څه شی دی؟
جواب: اسلام عبارت دی دځان دتسلیمولو او د الهي احکامو دپیروي کولو څخه.
سوال: اسلام کوم قسم دین دی؟
جواب: اسلام متوسط دین دی .
سوال: څو آسمانی کتابونه دي او هم ووایه چې پرچا چا نازل شویدي ؟
جواب: څلور آسمانی کتابونه دي او په څلورو پیغمبرانو علیهم السلام نازل شوی دي.
١- تورات په حضرت موسی (علیه سلام)
٢- انجیل په حضرت عیسی (علیه سلام)
٣- زبور په حضرت داود (علیه سلام)
٤- قرآن کریم په حضرت محمد رسول الله (صل الله علیه وسلم).

## د خپل ځان لپاره بریالي شئ



د بریالیتوب او خوښۍ لپاره خپل ځان انتخاب کړئ، تاسو هغه څوک یئ، چې کولای شئ خپل ځان بریالیتوب ته ورسوئ او هم خپل ځانته خوښي ورکړئ، تاسو په خپل ځان کې داسې ظرفیتونه او وړتیاوې لرۍ، چې په کار اچولو سره یې حتماً بریالیتوب ترلاسه کولای شئ، په دې ژباړه کې به په همدې پوه شئ، چې څنګه د خپل ځان لپاره بریالي شئ؛ سخته نه ده، بس یوازې دا لس خبرې عملي کړئ.
١: په ځان باور د بریالیتوب کیلي ده، که تاسو په خپل ځان باور ونه لرئ، نور خلک به هم په تاسو باور ونه کړي.
٢: مثبت فکر لرل په ژوند کې د هر شي د ترلاسه کولو لپاره مهم عنصر دی، په منفي فکر سره هېڅ بریالیتوب نه شئ ترلاسه کولای.
٣: بریالیتوب تصادفي نه دی، بلکې د پلان، سخت کار او استقامت پایله ده.
٤: که تاسو خپل حالات نه شئ بدلولای، نو پر وړاندې یې خپل چلند بدل کړئ.
٥: دوامداره زده کړه د شخصي او مسلکي ودې لاره ده، د زده کړې مخه نیول د ودې مخه نیول دي.
٦: خوښي او بریالیتوب هغه چا ته نه راځي، چې ناست وي او انتظار کوي، بلکې هغه چاته راځي، چې د هغوی لپاره لټون هڅه او کار کوي.
٧: موخې د بریالیتوب په انجن کې تیل د سون توکي دي، پرته له روښانه موخو تاسو هېڅ ځای ته نه شئ رسېدلای.
٨: بریالیتوب په تصمیم سره پیل کېږي، تصمیم ونیسئ، چې بریالي شئ او هم یې د ترسره کولو لپاره اړین ګامونه پورته کړئ.
٩: ښې اړیکې د بریالیتوب څخه دي، داډ ترلاسه کړئ چې ښې او مثبتې اړیکې رامنځ ته کړئ.
١٠: د کار او ژوند ترمنځ توازن اړین دی سخت کار مهم دی، مګر د ژوند څخه د خوند اخیستلو لپاره باید حتماً ځای شتون ولري.

ژباړه: رفیع الله رفیع

Newspaper
# Marif
Weekly

**مسئول مدیر:** سعید «جلال»
**کتنپلاوی:** الحاج مولوي شهاب الدین «ثاقب»
مولوي عزیز احمد «ریان»
قاري منصور أحمد «حمزة»
معراج «زماني»
محمد ابراهیم «ملهم»
محمد اکرم «وفادار»
محمد نسیم «عیاذ»
عبدالصبور «غفرانی»
**انځور اخیستونکی:** محمد ادریس «نوری»
**ډیزاینر :** محمد قسیم «نادم»

**تیراژ:** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازی محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د پوهنې اوونیزی مدیریت

**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمایید.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړیکي شمېره:** ۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 279,2024


## سرپرست وزارت معارف به هدف بررسی امور تعلیمی عازم ولایت خوست شد

الحاج مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف در ادامه سفر های کاری شان به ولایات جنوب کشور وارد ولایت خوست گردید. سرپرست وزارت معارف در این سفر ابتداء با رئیس، مسئولین و کارمندان ریاست معارف ولایت خوست دیدار کرده و روی پلان ها، برنامه ها و سهولت های متوازن تعلیمی برای اولاد وطن در سراسر کشور و بلند بردن کیفیت درسی سخنان ارزشمند شان را ایراد نموده و از آنان خواست تا با صداقت و دلسوزی امور روزمره خویش را انجام دهند.



سپس همراه با مسئولین معارف به یک تعداد مدارس و مکاتب از جمله « امداد العلوم »، دارالایتام مرکزی و لیسه نمونوی تشریف برده و از نزدیک جریان دروس شاگردان و تدریس استادان را مشاهده و با مسئولین، استادان و شاگردان مراکز یاد شده روی برنامه های درسی، مشکلات و نظریات آن ها بحث و تبادل نظر نمود. در این دیدار ها سرپرست وزارت معارف ضمن ارائه مشوره های عالمانه و مفید برای آنان، در پیوند به مشکلات شان وعده همکاری سپرد.

قابل یاد آوریست که هم اکنون در امداد العلوم مرکز ولایت خوست جمعا به تعداد ۳۰۰۰ تن طالب العلمان مصروف فراگیری آموزش می باشند.

## دیدار رئیس اداره ملی امتحانات با مسئولین معارف شیوخ وعلمای کرام ولایت بلخ



شیخ عبدالباقی حقانی رئیس اداره ملی امتحانات در مقر ریاست معارف ولایت بلخ با رهبری آن ریاست، شیوخ و علمای جید آن ولایت دیدار و ملاقات نمود. نخست الحاج مولوی عبدالجلیل شهید خیل رئیس معارف ولایت بلخ تشریف آوری رئیس اداره ملی امتحانات را به آن ولایت خیر مقدم گفته و از کارکرد ها به خصوص همکاری اداره یاد شده با معارف در راه اندازی امتحانات کانکور به نیکویی یاد کرد.
صفحه ۲

## پکتیا ولایت کې د ۱۰ بابه ښوونځیو د جوړېدو چارې پیل شوې

د پوهنې وزارت سره په همغږۍ، د پکتیا ولایت په ۹ ولسوالیو کې د یوه مرستندویه بنسټ له خوا چې له پوهنې سره مرسته کوي، ۱۰ بابه ښوونځي جوړېږي.

د یادو ښوونځیو د جوړېدلو لګښت شاوخوا ۱۹۶ میلیونه افغانۍ اټکل شوی دی. د دغو پروژو د پیل په مراسمو کې د یاد ولایت د پوهنې رئیس مولوي عبدالقیوم فاروقي سربېره، د ولایت مقام مرستیال شیخ انعام‌الله صلاح‌الدین، د ولسوالیو پوهنې آمرینو، د ښوونځیو ښوونکو، علماوو او استاذانو هم حضور درلود. مسئولینو په خپلو خبرو کې د پوهنې په ارزښت خبرې وکړې او ډاډ یې ورکړ، چې دافغانستان ا.ا. مشرتابه د پوهنې وزارت د ټولو هغو هڅو بشپړ ملاتړ کوي، چې په هېواد کې متوازن ښوونیز او روزنیز خدمات وړاندې کوي.



## په کندهار ولایت کې یو باب شپې لیسې په فعالیت پیل وکړ

د اړتیا پر بنسټ چې د کندهار ولایت په دامان ولسوالۍ کې د شپې لیسې د شتون لپاره محسوس کېده، اوسمهال د پوهنې وزارت د مشرتابه په هڅو د همدې ولسوالۍ په سید پاچا لیسه کې د شپې لیسې ځانګه فعاله شوه.

د یادې لیسې د پرانیستې په مراسمو کې د دغه ولسوالۍ د پوهنې آمر مولوي صدیق الله هلال سربېره یو شمېر علماوو او د سیمې د خلکو استازو هم ګډون کړی وو.

ویناوالو او علماوو د نورو په استازیتوب د پوهنې وزارت له لوري د کندهار ولایت دامان ولسوالۍ اوسېدونکو لپاره د شپې لیسې ځانګې د جوړېدو هرکلی وکړ او د دغه وزارت له پلانونو یې خپل ملاتړ څرګند کړ.

## ساخت سه باب صنف درسی برای یک مکتب در ولایت غزنی

مسئولین در ولایت غزنی میگویند اهالی ولسوالی مقر آن ولایت به مصرف شخصی شان به هزینه ۵۰۰ هزارافغانی در محوطه مکتب «دری زبان» ولسوالی یاد شده سه باب صنف درسی اعمار می کنند که با ساخت صنوف مذکور برای حدود ۲۰۰ تن شاگرد فضای مصئون تعلیمی ایجاد می شود. هم چنان در نظر است تا سیستم آب آشامیدنی نیز در این مکتب از طرف شورای مکاتب، فعال شود.

رهبری وزارت معارف از کمک های مردم معارف دوست ولسوالی مقر ابراز خوشی و تشکر می نماید.

## افتتاح یک باب مکتب ابتدائیه و گذاشتن سنگ تهداب دوباب مکتب در ولایت فاریاب

به ادامه برنامه های توسعه وی وزارت معارف و فراهم ساختن زمینه آموزش به فرزندان کشور به تازه گی یک باب مکتب ابتدائیه در ولایت فاریاب گشایش یافت و سنگ تهداب ساخت دوباب مکتب دیگر از سوی مسئولین در آن ولایت گذاشته شد.



قاری منصور احمد حمزه رئیس نشرات و سخنگوی وزارت معارف میگوید: که ابتدائیه ذکور دولت محمد آزادی
صفحه ۲

## په ننګرهار ولایت کې د یو باب ښوونځي د جوړېدو چارې پیل شوې

د ننګرهار ولایت په کوز کنړ ولسوالۍ کې د بدیالي عالي لیسې د ودانۍ جوړولو چارې د ۱۱ میلیونه افغانیو په لګښت د پوهنې په برخه کې د یوه همکار بنسټ په مرسته پیل شوې.

په پام کې ده
۲مخ



## پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د خپلو فعالیتونو په لړ کې د اوومې ناحیې د یو شمېر ښوونځیو څخه لیدنه وکړه

دپوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست مسئولینو تېره اوونۍ د کابل ښار اوومې ښوونیزې ناحیې اړوند د محراب الدین، ایمني، خوشحال خان، غازي ادې له لېسو او د دانش وړانګه، ماندګار علم، ماندان سعادت، عامه افغان، رفاه فردا، استقلال خراسان، شمس الهدی، شمشاد نمبر۱ ، قاموس نمبر۲ لومړني ښوونځي، شمس الهدی نمبر۳، اسرار توحید، برین، حماسه دانش، آشیانه خصوصي ښوونځیو څخه لیدنې وکړې.

ددغو لیدنو په ترڅ کې دعوت او ارشاد ریاست مسئولینو د یادو لېسو چارواکو ته «د اساسات الاسلام کتاب» د تدریس لړۍ پر تطبیق ټینګار وکړ او د همدغو ښوونځیو مسئولینو او زده کوونکو ته یې دیني لارښوونې وکړې او له هغوی یې وغوښتل، تر څو خپل صورت او سیرت د رسول الله «صلی الله علیه وسلم» په سنتو برابر او همدارنګه د دیني درسونو په حلقو کې په جدي ډول برخه واخلي.

د یادونې وړ ده چې تېره اوونۍ هم د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست مبلغینو له ټاکل شوي مهالوېش سره سم د مرکز او ولایتونو په ښوونیزو بنسټونو کې د دیني درسونو له بهیر څخه لیدنه وکړه.

**جامعه وقتی به سعادت می‌رسد که مطالعه کار روزانه اش باشد.**